# د تعليم او دعوت په ډګر کي د تعليم الاسلام راډيو و خدمتونو ته لنډه کتنه

تعليم الاسلام راډيو
FM 89.70

درنو او عزتمنو ورونو ! تاسو ته معلومه ده چي تعليم الاسلام راډيو شخصي ولسي راډيو ده د اقتصادي پلوه هم د ولس لخوا حمايه او تمويليږي ځکه نو لازمه مو وبلل چي د تعليم او دعوت په ډګر کي د دې اسلامي راډيو خدماتو ته ستاسو پام را واړوو هغه دا چي :

۱ : **تعليم الاسلام راډيو** کـندهـار (مـرکز): FM ۸۹،۷۰ د راډيو د لاري خپرېدونکي بېلابيلي ږغيزي خپروني چي اوس يې د خپرونو شمېر تر (۴۰) اوړي، ددې پاني د شاه پر طرف د خپرونو د محتوا په اړه لنډ معلومات لوستلای سی .

۲ : **تعليم الاسلام راډيو** هـلمنـد ښاخګه: FM ۸۹،۵۰ چي د ۱۳۹۱ کال د روژې په مياشت کي يې نشرات پيل کړي دي.

۳ : **تعليم الاسلام راډيو** ارزګــان ښاخګه: FM ۸۸،۲۰ چي پر ۲۴/۵/۱۳۹۲ تاريخ يې نشرات پيل کړي دي.

۴ : **تعليم الاسلام راډيو** جلال آباد ښاخګه: FM ۹۰،۹۰ چي د ۱۳۹۳ هـ ش کال د روژې مبارکي په مياشت کي يې نشرات پيل کړل.

۵ : **تعليم الاسلام ويب پاڼه** (www.taleemulislam-radio.com): ددې لاري د نړی و ګوټ ګوټ ته ۲۴ ساعته راډيويي نشرات رسول.

۶ : د ويب پاڼي پر مخ په ليکلي او ږغيز ډول بېلابيل مضامين نشر ته سپارل.

۷ : **تعليم الاسلام دارالافتاء :** د نړی په ګوټ ګوټ کي د ميشتو پښتنو د ورپيښو مسايلو د حل په منظور د نيټ د لاري د دارالافتاء امکانات برابرول .

۸ : **تعليم الاسلام مجله :** چي په بېلابيلو علمي، څېړنيزو، تربيتي او اسلامي مضامينو مشتمله مجله ده چي تر اوسه يې دوولس ګڼي چاپ سوي دي.

۹ : **تعليم الاسلام طلايي لړۍ :** دا هم پر مهمو موضوع ګانو د رسالو د ليکني مسلسله لړۍ ده ، د دې لړۍ دوهمه رساله د نشرپاڼي ضميمه در وليږل سوه.

۱۰ : **دارالاشاعة :** د مختلفو اسلامي او معلوماتي کتابونو د تدوين او چاپ ښاخګه.

د دعوت په ډګر کي د تعليم الاسلام راډيو د خدمتونو ځانګړتيا دا هم ده چي ګټه يې ډېره عامه ده ځکه نارينه او ښځينه ، لوستي او نالوستي د کور دننه د کور دباندي ، په ښار او په صحرا کي ، په کندهار او په نړی کي د شپې او د ورځي هر کس د خپل فراغت او مهالويش سره سم استفاده ځني کولای سي .

مسلمانانو ورونو ! تاسو کولای سی چي د اخلاقي مرستو تر څنګ په اقتصادي اړخ کي هم د دې اسلامي اداري سره مرسته وکړی څو دا اسلامي اداره وکولای سي د دعوت او تعليم دايره نوره هم پراخه کړي يا لږ تر لږه اوسني خدماتو ته ادامه ورکړای سي .

## زکات او صدقات

تاسو کولای سی د نفلي صدقاتو تر څنګ د خپلو زکاتونو يوه برخه هم د همدې اداري د زکات په حساب کي جمع کړی څو ستاسو په استازيتوب يې د زکات په مصرف کي توزيع کړي

فکر وکړه : ايا تاسو ته معلوميږي چي د سبا ورځي لمر به په دنيا کي او که په قبر کي راښاندي ؤوبيږي؟
که مو سبا د کوچ نوبت ورسيږي نو د خاورو ، چينجيو ، پرديسى او تنهايي کور ته څه توښه ورو ؟
مسلمانه وروره ! تر خپله وسه مال ښنده، پاک رسول ﷺ فرمايي : د خرما په نيمه پله لا هم د جهنم د اور څخه ځانونه ژغورئ .
باور وکړئ د مرګ قاصد ناځاپې راځي ، تلوار کوه سبا ته يې مه ځنډوه ځکه الله تعالى فرمايي : وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِنَ الصَّالِحِينَ (10) وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (11) (سورت المنافقون)
ژباړه : او يو اندازه د هغو مالونو څخه چي موږ در کړي دي د الله په لاره کي وښندئ مخکي تر دې چي تاسو يوه ته مرګ راځي بيا به وايي : اې زما ربه ! کاشکي د لږ مدې د پاره دې زما مرګ ځنډولی وای څو مالونه مې خيرات کړي وای او د نيکوکارانو څخه ګرځېدلی وای ، او کله هم الله د چا مرګ نه ځنډوي څه مهال چي د مرګ ميعاد يې راورسيږي او الله په هغو کارونو چي تاسو يې کوی خبر دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِي مَالِي إِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ. (مسلم)
ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : بنده وايي : زما مال زما مال ، خو ده لره دده د مال څخه درې شيان دي هغه چي وې خوړل نيستي يې کړه، هغه چي وايې غوستل زاړه يې کړه، هغه چي صدقه يې کړه وې ساتل او د دې پرته دی ځني ځي ټول خلکو ته پريږدي .